مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سردار محمد همدرد
۲۰۱۸/۰۸/۰۹

# کله مي پېرزو سي په بمونو ننګرهاره

پېښور چي د ادب، فرهنګ او شخصيتونو کور دی او بيا چي کله د جګړې ډګر سو، يوه شاعر يې په ډېره معصومه او هنري لهجه يو شعر ووايه چي مطلعه يې داسي وه:

ما درته ټول عمر د ګلونو ښار ويلی دی
کله مي پېرزو شي پــه بـمـونو پـېـښـوره

د افغانستان هر ولايت بېلابېلي ځانګرني لري. د اغزني پولي ها غاړي ته ښکه چي پېښور د ادب او فرهنګ ټاټوبی و، په همدې شکل دې غاړې ته ننګرهار د ادب او فرهنګ کور دی. په دې وروستيو کي چي کله زما ننګرهار او د ګلونو هار د ظالم او وحشي دښمن له خوا په وينو رنګ سو، ما کوښښ وکړ چي د ننګرهار او د ګلونو ښار په دې وروستيو دردوونکو پېښو باندي څه وليکم. همدغه شاعر چي پېښور ته يې شعر ويلی و، د هغه د شعر مطلع ته په ورته سرليک مي دا ليکنه پيل کړه؛ ځکه چي دا ټوله يوه سيمه ده. غم او ښادي يې ګډه ده.
ننګرهار ته د ادب او فرهنګ زانګو ويل کېده. دغه ولايت د جرګو، مرکو، علمي غونډو، مشاعرو او شخصيتونو کور دی. ننګرهار له پخوا تر اوسه بېلا بېل شخصتونه ټولني ته وړاندي کړي دي. دا ولايت په سياسي، ادبي، فرهنګي او بېلا بېلو برخو کي لوړ شخصيتونه لري. په ننګرهار کي پښتو ژبه او ادب ډېر غوړېدلی دی. ننګرهار د پښتو ژبې، ادب او ملي شخصيتونو ټاټوبی دی.
په دې ځای کي د ننګرهار د يو شمېر شخصيتونو نومونه را اخلم چي له دې جملي څخه ايمل خان مومند، قيام الدين خادم، صديق الله رښتين، دوست شينواری، موسی شفيق، د ګوشتي مغل خان، نجم الدين اخوندزاده، ميا علي صاحب، مولوي احمد ګل، خواجه رزق الله، مراد علي صاحب زاده، برهان الدين کوشککي، وزير محمدګل خان مومند، اخوند موسی بټي کوټی، ګردي غوث، پاپين خېل، اخوند درويزه، پوهاند زيورالدين زيور، عبدالرحمان پژواک، شهيد عبدالحق، قاري برکت الله سليم، عبدالحق، ملنګ جان، محمد اکبر معتمد، ميا محمد نعيم، محمد امين خوګيانی، عبدالله بختانی خدمتګار، مجاور احمد زيار، ميا فقيرالله جلال ابادي، ډاکتر ناصر شينواری، ډاکټر يعقوب شېرزاد، مياشرف ګردي وال، شا فيض الله اغا او مولوي محمد ابراهيم کاموي او داسي نور يې يادولی شم.
ننګرهار د دې شخصيتونو په لرلو د سالک صاحب هغه شعر ډېر په ځای دی چي وايي:
زه چي تذکره د ښکلو وګورم
ټول د ننګرهار وي چي دا ولي وي
په دې وروستيو کي د وحشي داعش مرکز دا د ګلو هار وګرځېد. هغوی خو له وژنو، ببرې او وحشت پرته بل هېڅ نه پېژني. زما د ګلونو هار (ننګرهار) چي د امن او سولي کور و، نه پوهېږم چا نظر کړ.
د هلمند او افغانستان د نورو ولايتونو پر جنازو او وير مو ډېر وژړل؛ خو د ننګرهار غم دومره دروند دی چي هلمند يې را څخه هېر کړ.
په دې هيله چي دا د ادب زانګو يو ځل بيا د امن، علمي غونډو او د سولي په فضاء کي د نارنج ګل مشاعرې شاهد و اوسېږو.

په درنښت
۱۳۹۷/زمری/۱۸
کابل


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ